**اردغان: د اهنین کلیسا جوړول، د ملګرو ملتونو ټولنې ته مهم پیغام دی**



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د استانبول په بالات سیمه کې د دمیر(سنت استیعان) کلیسا د بیا پرانیستلو په مراسمو کې، چې د بلغارستان د لومړي وزیر بویکو بوریسوف او د ترکیې د لومړي وزیر بن علی یلدریم په حضور سره تر سره شول، داسې وویل: «په اوسني وخت کې د داسې طرحې افتتاح د ملګرو ملتونو ټولنې ته یو مهم پیغام دی.» نوموړي زیاته کړه: «په ورستیو کلونو کې په ترکیه کې ۱۴ نصراني او یهودي کلیساوې بیا رغول شوي دي. همداراز اردوغان وویل: «د بېلابېلو دینونو د لارویانو د عبادت لپاره د ازادۍ تامینول د دولتونو دنده ده.»

خو، یوه میاشت وړاندې په ترکیه کې د تمییز محکمې، د جنایي محکمې د صادر شوي «۴۸۵» حکم په واسطه د حزب التحریر ځوانان په دې تور چې حزب التحریر سره اړیکه لري په زندان محکوم کړي دي. د اردوغان له خوا د حزب التحریر پر ځوانانو دغه ظالم احکام په داسې حال کې تر سره کېږي، چې حزب التحریر د امت د سترې پروژې حامل(لیږدوونکی) دی او ځوانان یې شپه او ورځ له اسلامي عقیدې څخه د استنباط شوې او فکري تګلارې په واسطه چې پکې د الله سبحانه و تعالی رضایت دی او د ژوند یوازینی تګلاره ده د ځمکې پر مخ د بیا جوړولو لپاره کار او فعالیت کوي. دا چې په اسلامي خاورو کې د رژیم چارواکي لکه اردوغان او تر شاه یې کافر غرب، له هغې پروژې او فکري ځواک څخه چې حزب التحریر پرې ولاړ دی او له فکري او سیاسي اړخه د خلکو د اغېزمنولو او قناعت ورکولو توان لري باخبره دي. نو ځکه اردوغان کافران مني، کلیساوې یې پرانیزي او یا یې رغوي.

**۱۴۳۹هـ.ق د ربیع الثاني ۲۳مه**

**۲۰۱۸م، د جنوري ۱۰مه**

**ژباړن: علي عمار**